



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## انجینر محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 08 جنوری 2015 م

# ځمــا خدای بښلی ګران پلار



خدای بخښلی مولوی حبیب الرحمن « خطیبي » در مولوی عمر ځوی ، د لغمان ولایت
د مندرور « تیګرو» د جامع مسجد خطیب او مدرس

**پاک جنت دی په نصیب شه ډیر وی تینګ خپل په ایمان**
**ملایکی دی حبیب شـــــه مولوی حبیب الر حــــــمن!**

نه دروغجن نه ریاکار وی ژوند دی تیــر په عبادت کړ
د هر چـــــا دزړه غمخوار وی تاته دعا کړی مخلصان

پلاره نه یی کمبودی ده راته یاد شی ستــــــــا مهرونه
نه شوخی ده نه مستی ده یـــم لیدو ته په ارمـــــــــــان

ډک له مهره ستا لاسونه به مــــــــی هرکله په یاد وی
ستا هم مینــــه هم مهرونه نه کړم ورک زه له اضحان

زه همیش تاته دوعا کړم خدای ببنلیه ځمـــــــا پلاره
لکه تا غوندی تقوی کـړم گوندی شمه ستــــا په شان

د محب تاته سوگند دی نور گناه نه کړم هیـــــــڅکله
مجیب خوبن ستا له هرپند دی ورک له ځانه کړی عصیان
***
محب الرحمن « خطیبي»

بازگشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org